مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ١٦٢** (از ۴ الی ۱۱ ثور ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه........ ۲

### تیره‌گی تازه در روابط کابل و اسلام‌آباد

- حکومت وحدت ملی و فراز ونشیب‌های روابط با پاکستان........ ۴
- موضع‌گیری اخیر کابل در برابر اسلام‌آباد........ ۵
- واکنش پاکستان........ ٦
- آیندۀ صلح و مذاکرات چهارجانبه........ ٦

### په افغانستان کې له نشه‌يي توکو سره د مبارزې روان وضعیت

- په افغانستان کې د نشه‌يي توکو کښت او پیداوار........ ۹
- په ۲۰۱۵ کال کې د نشه‌يي توکو وضعیت........ ۱۰
- د نشه‌يي توکو پرضد حکومتي تګلاره........ ۱۱
- له نشه‌يي توګو سره د مبارزې تګلاره........ ۱۱

## مقدمه

د افغانستان او پاکستان اړیکې د ملي وحدت حکومت له جوړېدو راوروسته ترټولو ناندریز پړاو ته رسېدلې دي. که څه هم په تېر یوه‌نیم کلن مزل کې څو ځله د کابل او اسلام‌اباد ترمنځ ناندریو زور اخېستی؛ خو په وروستي ځل په کابل کې له خونړۍ چاودنې وروسته افغان حکومت د پاکستان په تړاو توند دریځ خپل کړ او افغان ولسمشر له دغه هېواد سره د اړیکو او چلند تګلاره بدله کړه.

د دواړو هېوادونو ترمنځ وروستۍ ترینګلتیا د افغان سولې په اړه د څلوراړخیزو خبرو اترو له ناکامۍ سرچینه اخلي؛ ځکه پاکستان له زیاتو ژمنو سره سره ونه توانېد چې طالبان له افغان حکومت سره د مخامخ خبرو اترو مېز ته کېنوي. دا چې د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه‌اړخیزې اړیکې د ملي وحدت حکومت په یونیم کلن دوران کې له کومو لوړو ژورو تېرې شوې، د کابل-اسلام‌اباد د اړیکو او سولې او څلور اړخیزو خبرو اترو برخلیک په کوم لوري روان دی، د دې اوونۍ په تحلیل کې پرې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې، په افغانستان کې له نشه‌يي توکو سره د مبارزې د روان وضعیت په اړه لولئ. که څه هم افغان حکومت په خپل جوړښت کې له نشه‌يي توکو سره د مبارزې لپاره یو ځانګړې وزارت لري او دا اداره هم وخت ناوخت د خپلو لاسته راوړنو خبرې کوي؛ مګر لاهم نشه‌يي توکي د افغان حکومت لپاره یوه ستره ننګونه بلل کېږي. څو ورځې مخکې، د نشه‌يي توکو وزارت په ۱۳۹۴ کال کې د نشه‌يي توکو د زرګونو قاچاقوړونکو او سلګونه ټنه نشه‌يي توکو د نیولو خبر ورکړ؛ خو د نړیوالو ادارو د راپورونو له مخې، د دغو توکو په کښت او کاروبار کې د حکومت د تګلارې او مبارزې له کبله څه کموالی نه دی راغلی.

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل څانګې، شننې او څېړنې لولئ.

# تیره‌گی تازه در روابط کابل و اسلام‌آباد



در ادامۀ فراز و نشیب‌های روابط دوجانبۀ افغانستان و پاکستان، یک بار دیگر این روابط به پرتنش‌ترین مرحلۀ خویش رسیده است.

رئیس جمهور افغانستان پس از حادثۀ مرگبار اخیر در کابل، اظهار داشت که دیگر از پاکستان توقع آوردن طالبان به میز مذاکره را ندارد. رئیس جمهور غنی افزود که پاکستان در نشست‌های چهارجانبه کتباً تعهد کرده بود تا در برابر کسانی که به گفتگوهای صلح حاضر نشود، از گزینۀ نظامی استفاده خواهد کرد.

پیش از این نیز، روابط میان دو کشور حدود هشت ماه پیش زمانی به تیره‌گی گرایید که به تاریخ ١٦ اسد ۱۳۹۴، انفجار مشابه به انفجار ۳۱ حمل ۱۳۹۵، در منطقۀ شاه‌شهید کابل رخ داد. آقای غنی در آن زمان نیز، جانب پاکستان را به حمایت از طالبان متهم کرد و گفت که به صداقت پاکستان اعتماد ندارد. اما اکنون یک بار دیگر این روابط به کدام‌سو می‌رود؟

## حکومت وحدت ملی و فراز ونشیب‌های روابط با پاکستان

با روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی، رئیس جمهور غنی در اقدام بی‌پیشنه و برعکس سیاست دورۀ حامد کرزی، در پی بهبود روابط کابل-اسلام‌آباد برآمد. این حکومت امتیازاتی زیادی به پاکستان داد و برای کاهش نگرانی‌های اسلام‌آباد، روابط کابل-دهلی را به سردی کشاند.

مهم‌ترین فکتور در روابط کابل-اسلام‌آباد موضوع صلح در افغانستان بود که در موردش پاکستان وعده‌های فراوانی به افغانستان داد، رفت و آمدهای مقام‌های بلندرتبۀ دو کشور افزایش یافت و به این ترتیب امیدها برای به نتیجه رسیدن پروسۀ صلح در افغانستان تقویت شد. اما پس از چند ماه روابط گرم میان دو کشور، زمانی که ناامنی‌ها در کشور افزایش یافت و تعهدات پاکستان مبنی بر آوردن طالبان به میز مذاکره در ماه مارچ ۲۰۱۵، نیز عملی نشد، برای نخستین بار در دوران حکومت وحدت ملی، روابط کابل و اسلام‌آباد روبه خرابی نهاد.

پس از ماه مارچ ۲۰۱۵، حکومت وحدت ملی سیاست خود را در قبال پاکستان تغیر داد و تلاش‌ها برای نزدیکی روابط با هند را آغاز کرد. در ماه مارچ، داکتر عبدالله و سپس در ماه اپریل همین سال، رئیس جمهور غنی به سفر هند رفتند و به این ترتیب پاکستان زیر فشار بیشتر قرار گرفت. از همین‌رو، به ابتکار پاکستان نشستی در حضور استخبارات پاکستان در شهر ارومچی چین برگزار گردید که در آن معصوم ستانکزی رئیس دارالانشای شورای عالی صلح، با شماری از افراد طالبان گفتگو کرد؛ ولی طالبان این گفتگوها را رد کردند.

پس از نشست ارومچی، پاکستان برای اولین بار توانست تا در ماه جولای همان سال در منطقه «مری» در نزدیکی اسلام‌آباد، نماینده‌گان طالبان را به گفتگوهای رودررو با حکومت افغانستان حاضر نماید؛ ولی این پروسه نیز اندکی بعد با افشای مرگ ملا محمد عمر متوقف گردید. پس از متوقف شدن گفتگوهای صلح به میانجیگری پاکستان، موج جدید ناامنی‌ها نیز در کشور آغاز یافت. شهر کندز برای دو هفته به تصرف طالبان درآمد و انفجارهای مرگباری[1] نیز در کابل و سایر ولایات کشور به وقوع پیوست و به این ترتیب روابط افغانستان و پاکستان در دورۀ یک‌سالۀ حکومت وحدت ملی، به تیره‌ترین وضعیت خود رسید.

پس از تلاش‌های چین، امریکا و ملل متحد برای بهبود دوبارۀ روابط افغانستان و پاکستان، و در پی سفر سران احزاب پشتون پاکستان به کابل، رئیس جمهور افغانستان در حاشیۀ کنفرانس تغیر اقلیم در پاریس، با نواز شریف نخست وزیر

[1] به طور مثال، انفجاری به تاریخ ١٦ اسد ۱۳۹۴ در منطقۀ شاه‌شهید کابل رخ داد که خسارات مالی و جانی گسترده‌ای در پی داشت. هرچند مسؤولیت انفجار شاه‌شهید را کسی به عهده نگرفت، ولی روابط کابل-اسلام‌آباد را شدیداً متاثر نمود.

پاکستان دیدار کرد. در این دیدار نخست وزیر پاکستان، مذاکرات چهارجانبه میان افغانستان، پاکستان، چین و امریکا را برای آغاز دوبارۀ پروسۀ صلح افغانستان پیشنهاد کرد که مورد پذیرش اشرف غنی نیز قرار گرفت.

در دسامبر ۲۰۱۵، رئیس جمهور افغانستان به هدف اشتراک در کنفرانس "قلب آسیا" به اسلام‌آباد رفت و در حاشیۀ همین کنفرانس، نشست چهارجانبۀ افغانستان، پاکستان، چین و امریکا نیز برگزار گردید. در این نشست، گروه همکاری‌های چهارجانبه برای پیشبرد مذاکرات تشکیل شد.
گرچند چهار نشست مذاکرات چهارجانبه در کابل و اسلام‌آباد تدویر یافت، ولی طالبان از اشتراک در این مذاکرات امتناع ورزیدند و این مذاکرات را تحریم کردند. تحریم این پروسه از سوی طالبان، باعث گردید تا یک بار دیگر افغانستان بر تعهدات پاکستان بدگمان شود. ولی پس از انفجار اخیر در کابل، این روابط نسبت به هر وقت دیگر پرتنش‌تر شده است.

## موضع‌گیری اخیر کابل در برابر اسلام‌آباد

پاکستان از آغاز مذاکرات چهارجانبه، چهار بار به حکومت افغانستان وعده داد که طالبان را به میز مذاکره با حکومت افغانستان خواهد آورد؛ اما این کشور نتوانست به تعهدات خویش جامۀ عمل بپوشاند. در آغاز سال ۱۳۹۵ پس از افزایش حملات طالبان، حکومت افغانستان از مذاکرات چهارجانبۀ صلح ناامید شد. از همین جاست که یک روز قبل از انفجار در کابل، اشرف غنی در نشستی با اعضای شورای ملی گفته بود که گفتگوهای صلح را تحریم کرده است.[2]

در ۳۱ حمل ۱۳۹۵، انفجار و حملۀ گروهی در شهر کابل رخ داد که مسؤولیت آنرا طالبان به عهده گرفتند. بر اساس ارقام حکومت افغانستان در این انفجار ٦۴ تن کشته و ۳۴۷ تن دیگر زخم برداشتند. در واکنش به این حادثه، اشرف غنی موقف تندی در برابر پاکستان اتخاذ کرده و گفت که دیگر بالای پاکستان اعتماد ندارد. اشرف غنی روز دوشنبه (٦ ثور) در نشست فوق‌العادۀ هر دو مجلس شورای ملی گفت: «از پاکستان توقع نداریم که طالبان را به میز مذاکره بیاورد، اما از پاکستان می‌خواهیم که به تعهداتش در موافقتنامۀ چهارجانبه پابند باشد.» وی افزود: «توقع ما از کشور همسایۀ ما پاکستان این است که آن کشور در مورد مقابله با افراط‌گرایی از منطق تروریست خوب و تروریست بد عبور کند و به حیث یک دولت مسئول عمل کند، و جهان نیز در این امر با ما همصدا است» وی هشدار داد که اگر پاکستان سیاست خود را در این مورد تغییر ندهد، حکومت افغانستان به شورای امنیت سازمان ملل متحد، نهادهای بین‌المللی و جامعۀ مدنی بین‌المللی شکایت خواهد کرد.[3]

---
[2] http://csrskabul.com/pa/?p=2402
[3] http://president.gov.af/ps/news/76964

از سوی دیگر، داکتر عبدالله عبدالله نیز پس از انفجار و حملهٔ گروهی در کابل، سفرش به پاکستان را به تعویق انداخت و به این ترتیب پاکستان را به گونه‌ای مسؤول این حادثه قلمداد نمود.[4] فاصله‌ی که به دلیل نیاوردن طالبان به پای میز مذاکرات، میان افغانستان و پاکستان ایجاد شده بود، پس از تعویق این سفر بیشتر شد. این سفر یگانه فرصتی بود که می‌توانست بی‌باوری‌های موجود در روابط میان دو کشور را کاهش دهد.

## واکنش پاکستان

وزارت خارجهٔ پاکستان اظهارات اخیر اشرف غنی در مورد پاکستان را رد کرده و در واکنش موقف تازهٔ حکومت افغانستان اعلام کرد که کشاندن گروه طالبان به پای میز مذاکره تنها وظیفهٔ پاکستان نیست.

از سوی دیگر، با آغاز تنش‌ها میان کابل و اسلام‌آباد، نظامیان پاکستان یک بار دیگر حملات راکتی خویش بر ولسوالی‌های لعل‌پور و گوشتهٔ ولایت ننگرهار را نیز آغاز کرده است. وزارت خارجهٔ افغانستان روز سه‌شنبه ۷ ثور، ابرار حسین سفیر پاکستان در کابل را برای وضاحت در این مورد احضار نمود.[5] گزارش‌ها حاکی از آن است که در حملات راکتی نظامیان پاکستانی در ولسوالی‌های لعل‌پور و گوشته‌ی ولایت ننگرهار یک پولیس‌سرحدی نیز کشته و دو تن دیگر زخمی شده‌اند.

## آیندهٔ صلح و مذاکرات چهارجانبه

پس از متشنج شدن روابط دو کشور، آیندهٔ پروسهٔ صلح نیز تاریک به نظر می‌رسد. هرچند دلیل افزایش تنش‌ها در روابط کابل-اسلام‌آباد از ناکامی مذاکرات چهارجانبهٔ صلح سرچشمه می‌گیرد؛ ولی مقامات پاکستانی هنوز هم از آغاز این گفتگوها در آیندهٔ نزدیک خبر می‌دهند.

وزیر مهاجرین و عودت کننده‌گان افغانستان به تاریخ ۳۱ حمل، بر اساس دعوت رسمی حکومت پاکستان به این کشور سفر کرد. هدف این سفر، موضوع راجستر نمودن مهاجرین افغان مقیم پاکستان و تمدید میعاد کارت‌های مهاجرت حدود یک‌ونیم میلیون مهاجر افغان در پاکستان می‌باشد.[6] به گفتهٔ وزیر مهاجرین، سرتاج عزیز مشاور نخست وزیر پاکستان، به او در مورد آغاز دوبارهٔ گفتگوهای صلح اطمینان داده است.

[4] http://ceo.gov.af/fa/news/59339
[5] http://www.darivoa.com/content/pakistani-ambassador-summoned-to-afghan-foreign-ministry/3303086.html
[6] http://morr.gov.af/fa/news/60726

از سوی دیگر، روز چهارشنبه (۸ ثور)سر تاج عزیز مشاور امنیت ملی پاکستان در پنجمین کنفرانس "سیکا" در بیجینگ پایتخت چین، با "وانگ یی" وزیر امور خارجهٔ چین نشست دوجانبه‌ای داشت که در آن هر دو جانب تعهد نمودند تا در تأمین صلح و امنیت در افغانستان با حکومت افغانستان از نزدیک همکاری نمایند. برعلاوه، هر دو طرف بر اهمیت توسعهٔ کار گروه همکاری‌های چهارجانبه نیز تأکید نمودند.[7]

حنیف اتمر مشاور امنیت ملی افغانستان نیز به تاریخ ۲۹ حمل ۱۳۹۵ در یک سفر رسمی به چین رفت. باآنکه هدف این سفر گسترش همکاری‌های نظامی و اقتصادی با چین خوانده شده، ولی در کنار این، سفر آقای اتمر طوری تعبیر شد که حکومت افغانستان برای آخرین بار تلاش خواهد کرد تا از طریق چین بر پاکستان فشار وارد نماید.

از جانب دیگر روز سه شنبه (۷ ثور ۱۳۹۵) نشست ششم کشورهای «قلب آسیا» موسوم به «روند استانبول» در دهلی نو برگزار گردید که به نمایندگی افغانستان حکمت خلیل کرزی معین سیاسی وزارت خارجهٔ افغانستان و به نمایندگی پاکستان عزیز احمد چودری معین وزارت خارجهٔ پاکستان اشتراک داشتند.

حکمت خلیل کرزی در سخنان خویش در اشاره به حادثهٔ اخیر کابل گفت، تا زمانیکه به حمایت "تروریزم" پایان داده نشود، تلاش‌های صلح نتیجه نخواهد داد. وی همچنان در مورد مذاکرات چهارجانبه گفت که هدف عمدهٔ این پروسه، گفتگوهای رودررو با طالبان بود و بر اساس موافقتنامهٔ این مذاکرات، در صورتیکه طالبان به گفتگوها حاضر نشود، علیه آنها اقدامات لازم صورت خواهد گرفت[8]. اما معین وزارت خارجهٔ پاکستان در سخنان خویش تاکید کرد تا همه طرف‌های مذاکرات چهارجانبه برای آغاز گفتگوها باید تعهد مشترک نمایند[9].

بربنیاد گزارش‌های رسانه‌یی، یک هیئت بلندرتبهٔ دفتر سیاسی طالبان در قطر نیز به اسلام‌آباد سفر کرده است. گفته می‌شود شهاب الدین دلاور، جان محمد مدنی و ملا عباس ستانکزی در ترکیب این هیئت شامل اند. رسانه‌ها به نقل از اعلامیهٔ طالبان، هدف این سفر را حل مشکلات مهاجرین افغان در پاکستان، مشکلات سرحدی و مذاکرات در مورد آزاد ساختن زندانیان طالب از زندان‌های پاکستان عنوان کرده‌اند[10]، اما برخی رسانه‌های بین‌المللی و پاکستانی خبرهایی را به نشر سپرده که هیئت متذکره برعلاوهٔ مقامات پاکستانی، با نماینده‌گان چین نیز دیدار خواهند کرد. اگر این اخبار مؤثق باشد، در شرایط کنونی چین آخرین امید برای آغاز گفتگوهای صلح خواهد بود.

[7] http://www.mofa.gov.pk/pr-details.php?mm=MzY4MQ,,

[8] http://mfa.gov.af/en/news/remarks-by-the-deputy-minister-of-foreign-affairs-of-the-islamic-republic-of-afghanistan-he-hekmat-khalil-karzai-at-the-first-senior-officals-meeting

[9] http://www.mofa.gov.pk/pr-details.php?mm=MzY4Mg,,

[10] http://www.voanews.com/content/afghan-taliban-confirms-delegation-visiting-pakistan/3304525.html

# په افغانستان کې له نشه‌يي توکو سره د مبارزې روان وضعيت



په ۱۳۹۴ کال کې په افغانستان کې د تېرو کلونو په پرتله د نشه‌يي توکو کښت او پيداوار کم شول؛ خو له دغه کموالي سره سره، افغانستان بيا هم د نړۍ په کچه د نشه‌يي توکو د توليد له پلوه، يو له لويو هېوادونو څخه و.

که څه هم افغان حکومت په دې برخه کې د لاسته راوړنو خبرې کوي؛ خو له نشه‌يي توکو سره مبارزې له زياتو نړيوالو مرستو سره سره، پام‌وړ پايلې نه دي لرلې. له نشه‌يي توکو سره د مبارزې وزارت د معلوماتو له مخې، په تېر ۱۳۹۴ کال کې ۳۱۱ ټنه نشه‌يي توکي او د نشه‌يي توکو ۲۹۰٦ تنه قاچاق‌وړونکي نيول شوي، چې ۱۰ تنه يې نړيوال قاچاق‌وړونکي دي او په دې ډله کې دوه داسې قاچاق‌وړونکي دي، چې له تېرو لسو کلونو راهيسې يې افغان دولت، امريکا او نور هېوادونه په لټه کې وو او په نړيواله کچه د نشه‌يي توکو د مافيا مخکښان دي.

له نشه‌يي توکو سره د مبارزې وزارت چارواکو په وينا، د افغانستان له نشه‌يي توکو هر کال ۷۰ ملیارده ډالره لاسته راځي، چې ډېره برخه يې د مافيا او وسله‌والو ډلو جيبونو ته ځي.

نشه‌يي توکي د افغانستان د نورو اساسي ننګونو ترڅنګ يوه لويه ننګونه ده، چې له يوې خوا يې هېواد له بدنامۍ سره مخ کړی او له بلې خوا د بېلابېلو راپورونو له مخې، له ۱ میلیون څخه تر ۳ میلیونو پورې د نشه‌يي توکو روږدي کسان لري او دا يوه ګواښونکې چاره ده.

دا چې په تېر کال کې د نشه‌يي توکو کښت او پيداوار ولې کم شول او افغان حکومت تراوسه د نشه‌يي توکو پرضد مبارزه کې څه کړي؟ دلته پرې شننه کوو.

## په افغانستان کې د نشه‌يي توکو کښت او پيداوار


په افغانستان کې د مخدره توکو کرکیله ډېر پخوانی تاریخ لري او له ډېر پخوا څخه دلته د مخدره توکو کر دود و. د سړې جګړې پرمهال هم په افغانستان کې د مخدره توکو کَر کیله کېده؛ خو د هغه مهال په اړه لا هم دقيق ارقام نشته.

له سړې جګړې وروسته، په افغانستان کې د کورنۍ جګړې پرمهال هم، افغانستان د نشه‌يي توکو يو له ډېرو توليدوونکو هېوادونو څخه شمېر ل کېده. په ۱۹۹۷ کال کې په افغانستان کې د مخدره توکو پيداوار ۲۸۰۴ ټنه وو، چې بيا په ۱۹۹۹ کال کې ۴۵٦۵ ټنو ته ورسېدل؛ خو په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د مشر ملا محمد عمر د فرمان له امله، د نشه‌يي توکو پيداوار له ۳۲۷٦ څخه ۱۸۵ ټنو ته راکم شول.

له ۲۰۰۲ کال څخه تر ۲۰۰۷ کال پورې د مخدره توکو پيداوار کال په کال زيات شول او له ۳۴۰۰ ټنو څخه ۸۲۰۰ ټنو ته ورسېدل. د مخدره توکو په پيداوارو کې د زياتوالي عمده لامل دا و، چې د هېواد په ډېرى برخو کې يې کښت په بې‌مخينې ډول زيات شو. د مخدره توکو کښت په ۲۰۰۲ کال کې د ټول هېواد په کچه ۷۴ زره هکتاره و، خو په ۲۰۰۷ کال کې ۱۹۳ زره هکتاره ته زيات شو.

له ۲۰۰۷ کال څخه بيا تر ۲۰۱۰ کال پورې د مخدره توکو پيداوار له ۸۲۰۰ ټنو څخه ۳٦۰۰ ټنو ته راکم شول. خو په ۲۰۱۱، ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کال کې دا کچه يو ځل بيا لوړه شوه. په مجموعي ډول له ۲۰۰۹ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې د افغانستان په ډېرى برخو کې د مخدره توکو د کښت ساحه پراخه شوه. د ۲۰۰۹ کال له ۱۲۳ زره هکتاره څخه په ۲۰۱۴ کال کې ۲۲۴ زره هکتاره ځمکې ته زياته شوه. (توضيحي ګراف-۱)

## توضیحي ګراف-۱: په افغانستان کې د نشه‌يي توکو د پیداوارو کچه




## په ۲۰۱۵ کال کې د نشه‌يي توکو وضعیت

په ۲۰۱۵ کال کې د نشه‌يي توکو تر کښت لاندې ځمکه او پیداوار، په لومړي ځل د تېرو کلونو په پرتله کم شول. د ملګرو ملتونو د جرایمو او د نشه‌يي توکو د ادارې د کلنۍ راپور له مخې، په ۲۰۱۵ کال کې په ۱۸۳۰۰۰ هکتاره ځمکه کې د دغو توکو کښت شوی و، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۱۹سلنه کمښت ښيي.

همدا راز په ۲۰۱۵ کال کې د نشه‌يي توکو پیداوار هم ۳۳۰۰ ټنه اټکل شوي، چې دا هم بیا د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۴۸ سلنه کموالی ښيي. په ډېرى توګه په افغانستان کې د دغو توکو کښت په ناامنه سیمو کې وشو، تر ټولو زیات په هلمند، بیا په فراه، کندهار او بادغیس کې و.

د افغانستان یوازې ۱۴ ولایتونه د نشه‌يي توکو له کښت څخه پاک وو او په پاتې نورو ۲۰ ولایتونو کې د مخدره توکو کښت شوی و. د نشه‌يي توکو د کښت کموالی هم د ملي وحدت حکومت د ټګلارو له کبله نه و؛ بلکې د ملګرو ملتونو د سروې له مخې، د مخدره توکو د پیداوارو د کمښت ستر لامل د فصل خرابوالی و.

## د نشه‌يي توکو پرضد حکومتي تګلاره

په افغانستان کې د طالبانو د حکومت له ړنګېدو وروسته، د بُن په کنفرانس کې يو وزارت د نشه‌يي توکو پرضد د مبارزې وزارت اعلان شو. همدا راز په ۱۳۸۳ کال کې ولسمشر کرزي هم د نشه‌يي توکو پرضد مبارزه د خپل حکومت په لومړيتوب کې اعلان کړه او د دغو توکو کر، پيداوار او قاچاق منع شول. د دې ترڅنګ د مخدره توکو د له منځه وړلو لپاره د مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت، کورنيو چارو وزارت، روغتيا وزارت، کرنې او مالدارۍ وزارت او د جرايمو او مخدره توکو پرضد د ملګرو ملتونو اداري ترمنځ همکاري هم زياته شوه.

وروسته د مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت يوه ستراتيژي هم اعلان کړه، چې لاندې برخې يې عمده ټکي وو:

- د مخدره توکو قاچاق پرضد کړنې ترسره کول؛
- د خلکو په اقتصاد کې مثبت بدلون راوستل؛
- د مخدره توکو تقاضا کمول او پر مخدره توکو د روږدو کسانو تداوي کول؛
- د ولاياتو او ولسواليو پر کچه د دولتي ادارو وړتياوې لوړول؛
- عامه پوهاوی، سيمه‌ييزه او نړيواله همکاري، د کوکنارو تر کښت لاندې سيمې خرابول، د قانون عملي کول او  د مخدره توکو الترناتيف (متبادل) توکي رايجول.

د ملي وحدت حکومت دواړو مشرانو هم د خپلو ټاکنيزو کمپاينونو پرمهال، د نشه‌يي توکو پرضد پر مبارزې ټينګار کړی و؛ خو په تېر يوه نيم کال کې يې د يو څه فصلونو له ويجاړولو او د يو شمېر قاچاق‌وړونکو له نيولو پرته، په دې برخه کې کوم جدي ګامونه نه دي پورته کړي؛ شايد عمده لامل يې هم په هېواد کې ناامني وي؛ ځکه د حکومت تر ټولو زياته پاملرنه پر دې خوا وه او د مخدره توکو پرضد مبارزې ته کوم لومړيتوب ورنه کړل شو.

## له نشه‌يي توګو سره د مبارزې تګلاره

د طالبانو د حکومت له ړنګېدو وروسته، تراوسه پورې د مخدره توکو پرضد مبارزه کې دولتي او نړيواله تګلاره اغېزناکه نه ده ثابته شوې، چې عمده عوامل يې دغه مهال د بهرنيو هېوادونو دسر تېرو شتون او ورسره اړوند تړل شوي کسان، په خپله د حکومت لوړپوړي چارواکي او يا د لوړپوړو چارواکو خپلوان د مخدره توکو پر قاچاق کې تورن او يا ښکېل وو.

له دې وراخوا، په سمه توګه د قانون نه عملي کېدل، په ناامنه سيمو کې د نشه‌يي توکو په کښت او پيداوارو کې د دولت د وسله‌والو مخالفينو لاس، د ټول هېواد په کچه ناامنی او د متبادلو فصلونو نه شتون، چې بزګرو ته ګټه وکړي، هغه عوامل وو چې له نشه‌يي توکو سره مبارزه يې اغېزمنه کړې وه.

همدا لامل دی، چې د نشه‌يي توکو پر ضد مبارزه د قانونونو جوړولو او ادارو رامنځته کولو له کبله نه حل کېږي، بلکې ترڅو چې قانون پلی شوی نه وي، اداري فساد پای ته نه وي رسېدلی، امنيت نه وي ټينګ شوی او له بزګر سره د متبادل فصل په کښت کې مرسته نه وي شوې، افغانستان به د نشه‌يي توکو د کښت او پيداوارو له پلوه، مخکښ هېواد وي.

پای

**ارتباط با ما:**

ايميل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سايت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولين:**

دکتور عبدالباقي امين، رئيس مرکز مطالعات استراتژيک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقيقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**يادآوری:** لطفا نظرات و پيشنهادات خود را جهت بهبود مطالب اين نشريه به ما ارسال داريد.